مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندۀ مضمون میباشد، عقیدۀ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

شاه ولی آرین

۲۰۲۰/۰۳/۰۳

# د سولې موافقتنامه او ګواښنونه

د د ۲۰۲۰ ام کال فبروری د ۲۹نيټي د موافقتنامي نه په ګران هيواد افغانستان او ټوله نړی کي د خوښی ستاينې او ملاتړ وشو، په رښتيا چي هم دغه تړون ته په هيواد کي د اوږدي جګړي د ختميدو پيل ويلی شو.

مګر د تړون د دواړو لورو امريکا، طالبان او همدا ډول افغان دولت او حکومت په خبرو کي ضد او نقيضو څرګندونو يو شمېر پوښتني او تشويشونه منځ ته راوړي چي د لنډي اشاري او يادولو وړ يي بولم.

د موافقتنامي نه يو څو شپږي وروسته د عباس ستانکزی جګړه ايزه او له پېغورونو او سپکو سپورو ډکه لهجه، چي ګويا اشغالګر مات شوول، دوی ستره بريا تر لاسه کړه او دوی د کابل حکومت په رسميت نه پيژني، د کابل د اداري په عنوان له دوی سره حتا خبري نه کوي، دوی به په بهرنيو ځواکونو بريدونه نه کوي، خو له افغانانو سره اوربند نورمانا نه لري او جګړو ته به دوام ورکوي، ۵۰۰۰ طالب بنديان به د بين الافغاني مذاکراتو له پيل ترمخه خوشي کيږي؛ دا هغه خبري دي چي د افغاني دود، کلتور او فرهنګ له مخی د سولې د پروسي بهير ګواښمن کولای شي.

له بله پلوه د قطر د سياسي هيئات د بل غړي ملا خيرالله سوله ايزی خبري، نه مغروره کيدل، د ټولو افغانانو په ګډون د ګډ حکومت جوړيدل، يو بل ته متقابل احترام، او همدا ډول د ملا هيبت الله د طالبانو د مشر د عفوی فرمان او د طالبانو د قطر دفتر د وياند سهيل شاهين څو مرکي، د هيواد په دننه کي د طالبانو د بلی ډلی ملا رسول وينا؛ دا ټول هغه څه دي چي په طالبانو کي د خبرو او عمل پوره يووالی نه ليدل کيږي چي دا په خپله په هيواد کي د دوامني سولی د راتلو په لار کي ستر خنډونه رامنځ ته کولای شي.

بله اساسي موضوع او د تړون د عملي کولو ګواښ د طالبان هغه تعهد دی چي دوی به له القاعدي او نورو ټولو افراطي ګروپونو سره اړيکي ختموي او د دې مخنيوي به کوي چي د دغو ډلو او ګروپونو له خوا به پر امريکا او د هغوی پر متحدينو له افغانستان نه خطر نه پيښيږی، چي دا په خپله ممکن يو ستونزمن او د طالبانو له وسه وتلی کار وي.
ليدل کيږی چي په موافقتنامه کي د امريکا او افغان دولت تر منځ د لاسليکيدو تر مخه کومی اساسی خبری او تفاهم نه وي تر سره شوي، چي د ۵۰۰۰ طالب بنديانو را خوشي کيدل يي هغه بيلګه ده چي افغان جمهور رئيس اشرف غنی يي دا دی د واره مخالفت څرګند کړ.

جمهور رئيس محمد اشرف غنی په ډاګه وويل چي د طالبانو د ۵۰۰۰ بنديانو خوشی کول دا د امريکا کار نه دی دا د افغان ولس او د هغوی د استازي اسلامی جمهوريت او اساسی قانون حق دی، چي څه وخت او په کومو شرائطو دغه بنديان خوشي کوي.

و ليدل شول چي د جمهور رئيس محمد اشرف غنی د دی خبرو په اړوند د امريکا د بهرنيو چارو وزير پمپيو هم خپل غبرګون وښود او ويي ويل چي د موافقتنامي په پلی کولو کي به خنډونه نه رامنځ ته کيږي.
د حکومت او دولت د چارواکو په خبرو کي هم د واحد دريځ نه شتون د محمد اشرف غنی جمهور رئيس، امرالله صالح، د ملی امنيت مشر محب الله محب، د دفاع او کورنيو چارو د سرپرست وزيرانو د خبرو او مطبوعاتی کنفرانسونو لړی يي د بيلګو په توګه يادولی شو.



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

بل د پوښتنې او تشویش وړ مطلب د افغانانو له پاره هغه پټه معامله او د ترون مواد دی چې د امریکا د بهرنیو چارو وزارت له لوري را وسپړل شول، چې هغه د توافق پټ موضوعات دی چې یوازې به د امریکا د سنا مجلس ته وړاندې کېږي، چې دې ته د «کاسې لاندې نیم کاسه» ویلی شو.

له بله پلوه د ترامپ په وینا کې وار ـ وار تاکید چې امریکا له طالبانو سره مشروط ترون لاسلیک کړی، چې که طالبان یې په هره برخه کې عملي نه کړي، دوی به له اوسني نظامی طاقت نه نور هم ډېر ځواکونه افغانستان ته راولېږی. د ترامپ دا څرګندونې دا انګیرنه یقیني کوي چې دغه ترون شاید ترامپ په تیرو ټاکنو کې چې د کمپاین په وخت کې یې له امریکایانو سره وعده کړې وه چې په افغانستان کې به جګړه ختموي، خپل سرتیري به راباسي؛ چې ممکن دا د همغې ژمنې د پوره کولو او د نوو ټاکنو لپاره د انتخاباتي کمپاین یوه برخه وي، نه په هیواد کې د سولې او د جنګ د ختمیدو لپاره هلې ځلې.

سره له دې چې ویل شوي و چې د موافقتنامې د لاسلیک کولو په مراسمو کې د څه له پاسه د یو شمیر هیوادو د بهرنیو وزارتونو او دیپلوماتیکو ځانګو استازو ګډون کړی وو، خو د ترون په هکله د دغو بهرنیو هیوادو په خاص ډول د هیواد په قضیه کې د ښکېلو او ګاونډیو هیوادو روښانه، باورمندي او د ملاتړ دریځونه نه لیدل کېږی، چې تر اوسه یوازې ایران خپل مخالفت څرګند کړی، چین د بهرنیو ځواکونو پر وتلو ټینګار څرګندوي او د پاکستان د بهرنیو چارو وزیر د ترون په لاسلیک کې خپل دریځ روښانه کړی او ادعا یې کړې چې طالبان دوی د موافقتنامې د لاسلیک کولو لپاره حاضر کړي دي او پر افغان حکومت یې د ۵۰۰۰ طالب بندیانو د ژر خوشې کولو غږ کړی دی.

زما په اند د هیواد په غمیزه کې د ښکېلو هیوادو خاموشي، د ملګرو ملتونو، چین روسیې او نورو ځینو ګاونډیو هیوادو چوپوالی، د دې مانا لري چې د دې پروسې د عملي کولو په لار کې ستونزې ویني او د امریکا له لوري یې یو جانبه او نه عملي کونګې ګڼي.

زه هم په دې باور یم چې د یوې دائمي او عملي سولې لپاره هغه شرائط او اړتیاوې چې باید تر سره شوې وای، نه په ملي او نه په نړیوال ډګر کې امریکا تر سره کړي او نه هم طالبانو د خپل ځواک او واحد عمل لپاره د هیواد په دننه او هم د هیواد نه د باندې د خپلو لیکو، متحدینو او تمویلونکو تر منځ عملي کړي دي.

افغان دولت هم په ستره خلا او ستونزه کې لاس او ګریوان دی، د ملي اجماع، واحد دریځ او له خپلو متحدینو سره د پوره تفاهم او واحد نظر په خلا کې قرار لري چې پورتني عوامل د عملی او تلپاتې سولې د لارې ستر خنډونه دي او که افغانان له دغه فرصت نه لازمه ګټه پورته نه کړي د یو بل خطر ناک ناورین سره یې د مخ کیدو امکانات لیدل کیږي.

**یووالي د بری غوره لار ده!**


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنېزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیږلو مخکې په ځیر و لولئ